

# (ناکامه مئین)

ناول

Ketabton.com

لیکوال: محمد صمیم ( فیض)

ډیزاین: محمد کریم (فیضی)

شمیره: ٠٧٦٤١٧٢٦٧٩/٠٧٨٣٥٣٣٤١٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب بیژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نـــــوم. | ناکامه مئین (ناول) |
| لیــکــــــوال. | محمد صمیم (فیضی) |
| ډیـــــزاینـــر. | محمد کریم (فیضی) |
| د چاپ کـــال. | ۱۴۰۲/۲/۲ |
| د لیکوال اول شمیره. | ۰۷۸۴۰۰۳۱۵۷ |
| د لیکوال دوهم شمیره. | ۰۷۸۳۵۳۳۴۱۶ |
| بریښنالیک. | Karimullahfaizi3@gmail.com |

که چیرې تاسې غواړې خپل کتابونه ته ډیزاین ورکړې

نو له موږ سره په تماس کې شئ.... ۰۷۸۶۷۸۸۴۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ دی وی!

**زما ګران پلار او خوږی مور جانی  ته**

**بیا زما  ګران دوستان او خوږو لوستونکو ته**

**هیله ده چی تر پایه یی ولولی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلامونه

دوستانو هیله لرم چی روغ او جوړ به یاست.

یاد ناول چی تاسو به یی ولولی دغه کیسه

زموږ د هیواد د ناوړو دودنو څرګندونه کوي

چی باید مور او پلار د خپل اولادونو خوښی ته وګوري

تر څو چی په آینده کی د کومی پیښی سره مخ نشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوا په یو ښایسته کلي کی ګڼ شمیر خلکو ژوند کوو..
دغه کلي د نورو کلیو په پرتله ستر(غټ) وو د دغه کلي ملک..
یارمحمد نومیده چی له ونی نه لوړ قدی وو خو لږ تریخ سړی وو.

په دی کلي کې دوه ښوونځي یو ښایسته کلینیک او یو لوی جامع جومات درلود
او ملا صیب هم عبدالرحمن نومیده.

ډیر یو نرم خویه او مهربانه سړی وه.
په دی کلي کی دا قانون ورته ملک صیب ټاکلی وه.
ټول ځوانان به خپل لمونځونه د جمعی سره کوي بل دا چی کله تور سری ځي ګودرو ته..
اوبو پسی که هلته یی کوم هلک ولیدل نو د هغه کور به له دی کلي کډه وړي.
بل دا چی کله په کلي کی غم یا ښادي کیږي

ټول دی یو بل سره لاس په لاس کار کوي..
دا پکی نه وی ولا زه پلانکي سره خبری نکوم او داسی نور ورته خبری.

د شپی به بی ځایه ګرځیدل په کلي کی منع ول ټولو د ملک صیب خبری منلی وی.
د دی کلي زیاتره خلک په مالداریٔ او په بزګری بوخت ول..
هلکان او انجونی ښوونځي ویل.

دی کلي ته نوی یوه بله کډه هم راغله چی ډیر یوه عاجزه کورنی وه.
دوه ورورنه او یوه خور یی درلوده پلار یی سپینږیری وو.

مشر ورور یی واجد او کشر یی ساجد نومیده.
دوی راغلل خان صیب ته یی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی خان صیب موږ ستاسو کلي ته نوی کډه راوړی.
زموږ پلار سپینږیری دی اقتصاد مو ډیر خراب دی که کوم کار وی
تاسو سره موږ ته یی راکړی.

موږ دواړه ورورنه یی کوو.
ملک صیب هم ورسره ستړی مشی وکړه.

او وویل:
پخیر راغلی دی کلي ته نو تاسو زما سره زما په کروندو کی کار کولی شی.
زه کلیوالو ته وایم چی تا سو وپیژنی.

ځکه په دی کلي کی لږ قوانین دی نور نو تاسو کولی شی سر له سبا راشی
خپلو کارونو ته دواړو وویل:

سمه ده ملک صیب.
هغوی دواړه خوشحاله راغله کورته..
واجد چی مشر وو د دواړو سه پارچه ځان سره راوړی وه.

واجد لاړو د کلي په مکتب کی ځانونه شامل کړه.
سهار وختی به ښوونځي ته تلل او لس بجی به کورته راتلل..
بیا به یی د ملک په کروندو کی کار کوو.

یوه ورځ ملک صیب د واجد کشر ورور ته وویل:
چی واهلکه ساجده دا د وښو پنډ زمونږ کور ته یوسه چی غواګانی وږي دي.

ساجد وویل:
سمه ده ملک صیب خو خو ملک صیب وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو خو نو څه دی هله نو ژر شه.

ساجد هم په نه زړه د وښو پنډ په شا کړو او روان شو..

کله چی د لوی دروازی مخ ته ورسید نو دروازه یی وټکوله..

د ملک صیب کشري ځوی چی د لسو کلو وو دروازه یی خلاصه کړه ورته وویل:

راشه دننه ساجد لاړو چی د وښوه پنډ پر ځمکه کیدي..

د ملک صیب لور ووته ورته وویل:

دغه د برنډی څوکی کی کیده.

کله چی ساجد د وښو پنډ کیخوست.

د ملک لور چی سپوږمۍ نومیده اوبه ورته په لاس ولاړه وه.

ساجد هم سر ځوړند کړی وو اوبه یی وڅکلی..

دلته نو د ملک صیب لور پوښتنه وکړه چی نوم دی څه دی؟

زما نوم ساجد دی مور نوي دی کلي ته کډه راوړی.

زمور اقتصاد خراب ده مور ستاسو په کروندو کی کار کوو..

سپوږمۍ وویل:

بل ورور دی څه نومیږي؟

ساجد وویل:

بل ورور می واجد نومیږي.

هغی وویل لږ خو پور ته وګوره چی دا مخ خو دی وګورم چی زمور بزګر څه رقم ده.

کله چی ساجد هم هغه یی ولیده نو تری روان شو.

ورځی او شپی تیریدی دواړه وررورنه ښوونځي ته هم تلل..

بیا به د خان په کروندو کی هم بوخت ول واجد په یولسم ټولګي کی وو او ساجد په نهم کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ ساجد په کروندو کی په کار بوخت وو..

چی ملک صیب له ښاره راغی سودا ورسره وه په ساجد یی غږ وکړ..

ساجد هم راغی د ملک صیب د اعتبار وړ هلک وو..

ملک صیب ورته وویل:

دا سودا ټوله یوسه کورته او سپوږمۍ ته ووایه..

چی پلار ته دی شین چای سره له ګوړی باغ ته یی ولیږه.

ساجد هم سودا واخیسته او راغی د ملک صیب کورته..

اوس د ملک صیب کور والا د ساجد نه ستر نکوو ننوت سودا یی د ملک لور ته ورکړه

او وویل:

شین چای سره له ګوړی راته راکړه چی پلار ته دی یوسم.

سپوږمی وویل:

ته دلته کینه زه همدا اوس راوړم..

پینځه دقیقی بعد چای او ګوړی سره راکړه او راته وویل:

زړګیه د قندانی لاندی می درته یو څه یخی بیا یی وګوره.

ساجد هم وویل:

سمه ده او راغی باغ ته چای ملک صیب ته واچوه نور نو لاړو د خپل کار پسی.

کله چی شپه شوه ډوډي وخوړل..

شوه ساجد پاڅیده مونځ یی په بله کوټه کی وکړه یوازی کیناست او ځان سره لګیا شو چی هغی سپوږمۍ به څه راکړی وي کله چی ګوري یو ښکلی لیک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لیک کی یی ورته یو ښکلی زړه رسم کړی وو..
او د زړه د رسم لاندی یی لیکلی وو

ساجده ګوره مینه کول د دوه زړنو کاردی که پلار می ما مړه هم کړی
نو زه به په دومره آسانی سره ستا له مینی وانوړم دا زما خبره ده.

په دی لیک سره د ساجد په زړه کی سل رقمه خبری ښکته او پورته شوی.

او د ځان سره یی وویل:

چی دا زه په څه واوښتم که ملک صیب را باندی شي.

بیا خو دا به ډیره بده خبره وي بیا هغه د ستر کلي ملک او مونږ..

غریب کله داسی امکان لری.

خو ساجد هم مجبوره وو که چیری د ملک صیب کار پریږدي نو د کور مشکلات

بیا به څنګه شي خو ساجد هم توکل پخدای یو لیک ولیکه داسی یی پیل کړه.

سلام ګرانی سپوږمی!

تا داسی په آسانه د خپل د زړه حال ما ته وویل:

بیشکه ولا خو په هر حال زه هم مینه در سره لرم خو هو تاسو خو مالداره خلک یی..

موږ غریب خلک یو او بل ستا پلار که را باندی خبر شي بیا موږ له کلي شړي.

ساجد هم یو بیت ورته ولیکه.

**حیران یم چي تشبِه درسره څه کړمه ته وایه**

**ښکلا وې دي په سترګو کې تمامې دي قربان**

لاندی ولیکل د بیا لیدو په هیله ستا ساجد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

واجد هم د دولسم ټولګی نه فارغ شو.
ځکه چې شپږ کاله نور یی  په خپل ولایت کی ویلی ول.

پس له شپږو کلو د هغو نور خپلوان یعنی ترونه او ماما ګان هم پیدا شول..
کله چی ساجد بیګا کور ته راغی نو ګوري چی ترونه او ماماګان یی راغلي دي

هغه هم پس له شپږو کلو پدی کی نو ساجد په غصه شو وویل:
تاسو په دومره وخت کی چیری وی اوس مو خوریان او وراره پیدا شول..
ولی هغه وخت مو نه په یادیږي؟

چی خپل ولایت نه مو کډه بارلوله تاسو یو هم کومک نه کوه..
هغه وخت موږ غریب وو خیر چی تاسو مالداره وی نو اوس څه شي لپاره
زموږ کور ته راغلي یی څه غواړی؟

ورک شئ زموږ له جونګړی نه.
آخر هم واجد راغی او وویل:
بس نور بس کړه هغوی اوس پښیمانه شوی هغوی هم نور خجالته شول..
او لاړل خو بلاخره واجد هم په ښار کی د کانکور آمادګي پیل کړه.

اوس ساجد هم په یوولسم ټولګي کی زده کړی کول
سهار ساجد هم لاړو ښوونځي ته پس له ښوونځي لاړو د ملک صیب کروندو ته..
ملک صیب ورته وویل:

ستړي مشئ ساجده ساجد هم وویل:
خیر اوسې ملک صیب ملک وویل:
هغه د توتو ونه چی ښاخونه یی وچ دي هغه اره او بیا یی په تبر ماته کړه.
یوسه لږ خپل کور او لږ هم زموږ کور ته ساجد هم همداسې وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول یی د ملک کور ته یوړ ګوری چي سپوږمۍ په تناره ورته ناسته ده..
سپوږمۍ ورته ستړي مشۍ وویل:

ساجد هم وویل:

خواره مه شی سپوږمۍ وویلی:
دا څو ورځی چیرته وی زما خو درپسی زړه خفه وو
او د شپی خوب هم نه راته ما هم لیک ورته ورکړ.

راغلم سیده باغ ته او هغه لرګي می کور ته راوړل سلام می واچوه..
موری څواب را کړ چی دا لرګي چا در کړه؟

ساجد وویل:
ملک صیب دوی یوه وچه ونه وه هغه ماته وویل:
اره او مات یی کړه ما هم همداسی وکړل.

پس له څو میاشتو د ساجد هم کلنۍ آزموینه پیل شوی..
ساجد هم ښه پارچه ورکوله خو هره ورځ همداسې پرله پسی آزموینی ته تلو را تلو..
آزموینی هم خلاصی شوی.

اوس نو نتایجو ته په تمه وو بلاخره نتایجی هم اعلانی شوی.
ساجد دوولسم ټولکی ته اول نمره کامیابه شو ټول ملګرو مبارکی ورکړه او کور ته راغی..
مور هم خوشحاله شوه خدای نه یی شکر ادا کړه.

ساجد هم د کمپیوټر ساینس پوهنځي سره شوق درلوده.
ورځی شپی همداسې تیریدی واجد د کانکور ازموینه ورکړه.

او نور نو بیرته خپل کارونه یی پیل کړه واجد سهار کروندو ته او ماښام راتلو کور ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساجد بیا بنه یو نیم وخت به یی چکری هم وهلی.

سهار ساجد لاړو د ملک صیب کور ته په یوه بهانه سپوږمۍ هم راغله..

بیرته یی د لیک ځواب ورکړ.

ساجد لیک ژر جیب ته کړ او ولاړه بهر باغ ته په کار لګیا شو ژمی هم وو..

خو هله هله ماښام شو..

هر یو کورونو ته تلل دوی هم دواړه وروړنه کور ته راغلل.

ساجد پس له مونځ لاړو بلی کوټی ته.

اولیک یی د جیب نه واخیست او لوستلو ته یی پیل وکړ....

سلام ګرانه! او زړه ته نږدی ساجد جانه.

په دی هیله چی ته او ستا قدرمنه کورنۍ روغ او جوړ اوسي.

ګوره ساجد جانه مینه کول خو د دوه زړنو کار دی زړه چی مین شي بیا خان او غریب نه پیژني او ته ولی دومره ویریږی ما تول ژوند ستا په نوم لیکلی دی.

بی لتا ماته ژوند کومه معنا نلري زه د زړه نه تا سره مینه کوم حتی د سر په قیمت که هم وی یوه شوی او که ته زما نه شوی یوه شه چی زه نوره ژوندی نه یمه..

دا بیت یی هم لیکلی وو.

**څه بلا درد لري بیـلتون دې غنمرنګه یاره**

**چي غورځېدم، پورته کېدم او نړېدم دریسي**

نور نو ساجد ته هم په سترګو کی ننګ ودریدو او د لیک ځواب یی داسی ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلام ګرانی!
مننه دا چی زما د کورنی د روغتیا پوښتنه دی وکړه.
او بیا هم دومره بی غیرته پښتون نه یم چی تا یوازی پریږدم..

اوس نو که دا مینه مو د سر په بیه هم شي څوک دی له ما نه جلا کولی نشي..
زه هم بی لتا ژوند نه شم تیرولی  بیا هم وایم مینه در سره لرم زما ګرانی سپوږمۍ.

ژمی هم په ختمیدو شو او پسرلی موسم روان وو..
واجد هم د خپل خوښی پوهنځي ته بریالی شو د ساجد هم دولسم ټولګی پیل شو..
هر څه په خوشحالی سره تیریدل د واجد هم لومړی سمستر رو رو مخ په ختمیدو وو

دواړو ښه هڅی کولی یوه ورځ ساجد چي ده ښوونځي نه راغی.
ګوري چی په کلي کی شور ما شور دی ژر یی د خلکو نه پوښتنه وکړو..
چی څه خبره ده؟

خلکو وویل:
چی دوه کسو په اوبو جنګ کړي او دواړه زخمیان دي ساجد هم ورخطا شو..
لاړو د کلي روغتون ته ګوري چی اوس د دواړو صحت لږ څه ښه دی او بیرته راغی..

ټولو ته یی وویل:
شکر اوس ښه دی ټول کلیوال خپلو دندو ته لاړل..
همداسی میاشتی او کلونه تیر شو ساجد هم د ښوونځي نه فارغه شو.
ملګرو یی تحفی ورکړل ساجد هم خوشحاله شو واجد هم د پوهنتون آخري سمستر ته نږدی شوی وو.

په کور کی یی ورته مور او سپینږیری پلار پریکړه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي واجد ته یوه جلۍ وګورو مور پلار می وویل:
بیګا واجد ته وایم چي هغه څه وای ورځ تیره شوه واجد هم راغی.
ډوډۍ یی وخوړ بیا مور او پلار می بحث وکړو..

چي واجد ځویه همدا چی ستا پوهنتون له خیره خلاص شو موږ تا ته کوژده کوو..
واجد هم مسکی شو وویل:

هر څنګه چی ستاسو خوښه ده.
دری میاشتی پس واجد هم د پوهنتون نه فارغ شو.
مور یی ورته خپله د خور لور وکړه نور نو واجد هم خوشحاله شو..
واجد به یوه خصوصي پوهنتون کی د استاد په توګه دنده پیدا کړه.

او د دوی ژوند هم مخ په ښه کیدو وو پاتی شو ساجد..
دی هم نور د کانکور اماده ګي پيل کړه.

هځی هم ډیری کولی او همدارنګه په کلي خپله بزګري هم مخته وړله..
فقط د خپلی مینی لپاره چی هغه هم وګوري خو لنډه دا چی ساجد هم د کانکور آزموینه
ورکړه او ورته په تمه وو چی کله به نتایج اعلانیږي.

په کی دری میاشتی ووتی.
دی د ننګرهار اقتصاد پوهنځي ته بریالی شو نو دا خبره یی کورنۍ ته وکړه.
ټول خوشحاله او مبارکي ورکړه حتی سپوږمۍ ورته یوه جوړه جامی هم وکړی

خو ساجد هم دی ته اړ شو چی لاړ شی ننګرهار ته..
دی کی نو پوره پینځه میاشتی تیری شوی لومړی سمستر ازموینه پای ته ورسید
او ساجد راغی کور ته ټولو ور سره روغبړ وکړو.

لږ ساعت وروروسته ساجد لاړ بهر چی ملک صیب وګوري..
باغ ته لاړو د ملک صیب سره ناست وو

چی ملک صیب ته زنګ راغی ورسره وغږیده موبایل پریک شو..
ملک صیب وویل:
ساجده زه تر ولسوالی پوری ځم نو ته دا سودا کور یوسه..
ساجد هم سودا واخیسته راغی د ملک کور ته د ملک صیب ښځی..
ور سره سترې مشی وکړه.

ساجد وویل:
چی دا سودا چیرته کیدم د ملک صیب ښځی وویل:
سپوږمۍ وه سپوږمۍ فکر کوم ساجده سپوږمۍ به په پخلنځي کی وي..
ورشه سودا هلته کیده.

ساجد هم لاړو پخلنځي ته سپوږمۍ چی ولید ساجد دی...
یوه کلکه غاړه ورنه واخیسته بیا ژر تری منډه کړه.

ساجد هم راغی کور ته نور نو په سوچونو کی ډوب وو چی دا څنګه چل دی؟
دومره کلکه غاړه خو لنډه دا چی ساجد هم پوهنتون نه فارغه شو..
نور ساجد هم په دندی پسی ګرځیدو

ساجد هم پس له ډیری مودی په یوه شرکت کی د مالي امر په توګه دنده وموندله
د دوی ژوند نور هم ښه شو مور او پلار یی وویل:

چی ساجد جان ځوی ته می هم یوه جلۍ وګورو نو ما نه یی پوښتنه وکړه؟
چی ساجده ځویه ته څه وای ما ویل مور که زه درته یوه خبره وکړم ته به یی ما ته وکړی
موری هم وویلی هو ځویه ته خو یو واری ووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساجد وويل :

هغه د ملک صیب لور چې سپوږمۍ نومیږي.

زما د ډیرو مودو خوښه شوی وه راته وکړه مور مې هغه به کله را ته خپله لور راکړي.

ساجد وویل:

ته خو یو واری لاړه شه خدای مهربانه دی مور یی وویل:

سمه ده بیګا تیره شوه دواړه وروړنه خپلو دندو ته لاړل موری هم لاړه..

د ملک صیب کور ته د ملک ښځی ته یی یاده کړی وه.

او هغی ویلی وو چې بیګاه ته به زه د خپل خاوند سره خبره وکړم.

کله چې بیګا ته دواړه وروړنه راغلل بیا ساجد پوښتنه وکړه..

موری د ملک صیب کورنۍ څه وویل؟

مور یی وویل:

د ملک صیب ښځی ویلی چې زه به بیګا ته خپل خاوند سره خبره وکړم.

په سبا باندی بیا د ساجد مور تللی وه.

د ملک صیب ښځی ورته ویلی وو..

چې زما خاوند دا ریشته نه مني او هغه وایی چې زه مې لور داسې خلکو ته نه ورکوم..

چې د خپل ناستی ځای ونلري خو مور یی هم خفه شوه او راغله کور ته.

بیګا یی ساجد ته وویل:

ځویه ملک صیب وویل:

چې زه مې لور داسې خلکو ته نه ورکوم چې خپل د ناستی ځای نلري.

دی خبری ساجد ته ډیر زور ورکړ او سخت ټول خفه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور نو داړو وروړنو پريکړه وکړه.
چی مورږ هم او د چا نه کم نه یو په دوه میاشتو کی په کلي کی داسی..
یو کور جوړ کړو چی د ملک هم نوره غوصه زیاته شوه.

ساجد هم نور پریکړه وکړه..
چی د سر په بیه هم شی زه د دی جلی نه نه اوړم او نور لاړو خپلی کوټی ته.
د ملک صیب لور هم ډیره خفه وه چی ویلی مور زه هم د ساجد سره ډیره مینه لرم..
که تاسو زما واده هغه سره و نکړو زه نو ځان وژنه کوم بس.

د ساجد مور څو ځله لاړه ملک کره خو هغوی بیا هم نه منله.
بلاخره هغه سپوږمی چی مخ یی رڼا کوله اوس داسي شوی وه..
لکه یوه سیوري غوندی وچه کلکه.

خو پلار یی بیا هم نه منله ورځی همداسي تیریدی..
د ساجد نه هم یو تش کالبوت جوړ شوی وه.

په سبا سهار چی خلک د جومات نه بیرته کورنو ته راتلل چی د ملک په کور کی د چغو او فریادونو غږونه اوریدل کیده.

ساجد هم نور په منډه لاړو د ملک کور ته ګوري چی سپوږمی مړه پرته ده او ځانه وژنه یی کړی ساجد هم په چغو چغو ژړل ملک هم لکه مړی غوندی ناست وو ساجد هم لیونی شو.

**پای**

**ستاسی کشر ورور محمد صمیم (فیضی)**

**ستاسی د دعا په هیله.**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**